United Nations Nations Unies

**UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN**
**UNAMA**

**د افغانستان مهمي ټولټاکنې**
**13 جولای ۲۰۰۹**

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی، کای ایډه**

په داسي حال کي چي ټول ټاکنو ته د يوې مياشتي نه لږ څه زيات وخت پاتي دی او هم ستر پوځي عمليات دوام لری، اوسنی وضيعت د هيواد تر ټولو پيچلی وضيعت دی چي موږ د څو کلونو په ترڅ کي ليدلی دی. خو بيا هم که چيرې دا وضيعت سم پرمخ ولاړ شي دا به شخړې ته د پايته رسيدو په برخه کی زموږ د هڅو لپاره، يو پريکړه کونکي پړاو وي.

د اګست د مياشتي د ۲۰ نېټي ټاکني د افغانستان د راتلونکو مشرانو د ټاکلو څخه خورا د زيات اهميت وړ دي. د کلونو شخړو او پرمختګونو وروسته چي د افغانستان هيلو ته ځواب و نه ويل شو، مهمه ده چي د خلکو باور په ديموکراتيکه پروسه زياته شي څو د افغانستان ديموکراتيک موسسات پياوړی شي.

ځکه نو دا مهمه ده چي د ټولو شريکباڼو د نقش څخه کوم چي د اعتبار لرونکو او افغان شموله ټول ټاکنو د پروسي څخه چي پايلي يي د ټولو افغانانو لپاره د منلو وړ وي ډاډ حاصل شي. د ټول ټاکنو پايلي نه شي کولای د هيچا د ګټو سره چي پايلي يي د مناقشي وړ وي او د راتلونکی حکومت مشروعيت ته زيان ورسوي، مرسته وکړي.

ملګرو ملتونو له ټولو نوماندانو څخه غوښتي چي له وقاره ډک کمپاين پرمخ بوځي او د فتنه انګيزه ويلو څخه چي ممکن تاوتريخوالی ته لار هواره کړي، مخنيوی وکړي. د ټول ټاکنو کمپاين به هميشه پريکړه کوونکی وی. خو په دې هيواد او دې وخت کي چي د ولسمشريزو ټاکنو کمپاين لا د مخه پيل شوی نو دا ډيره مهمه ده او کيدای شي د کمپاين اختلاف په يووالی سره تعقيب شي، ټول نوماندان مسووليت لري څو هيواد ته پايښت لرونکی او ټينګ مشرتابه ورکړي.

په همدي ډول موږ پر حکومتی موسسو او چارواکي باندي غږ کړي چي د ټولټاکنو په ټولو پروسو کي د مداخلي څخه ډډه وکړي. ولسمشر هم يو فرمان صادر کړی دی چي دغه ډول مداخله منع کوي. وزيرانو او همدرانګه د امنيتی موسساتو مشرانو ما ته د خپل عزم په هکله چي د خپلو موسساتو ريښتينوالی به وساتی، ډاډ راکړي دی. همدارنګه دوي کانديدانو ته د امنيتی ځواک د برابرولو او د دوي د کمپاين لپاره، د موجوده امکاناتو په نظر کي نيولو سره، د هوايی سفرونو د امکاناتو وړانديز کړی. د ولسمشر له فرمان څخه سرغړونه او د بيلابيلو کانديدانو په پلوی مرستي ترسره شوي دي. موږ به له نږدی څخه دا وضيعت وڅارو او کله چي د مداخلی داسی پيښي را برسيره شی هغه به په ګوته کړو. دغه ډول مداخلی د ټولټاکنو د پروسی پر اعتبار او شفافيت باندي ناوړه اغيزه کوي.

په پاي کي ملګرو ملتونو غوښتنه کړی او يو ځل بيا له ټولو رايه ورکونکو څخه غواړي چي په ټولټاکنو کي برخه واخلي. دغه برخه اخيستنه د ټولټاکنو د پايلو او د راتلونکو ټاکل شويو ديموکراتيکو موسساتو د پياوړي کولو لپاره ډير اهميت لري. زموږ غوښتنه، پرته له کوم تبعيض څخه، ټولو افغانانو ته راجع کيږي. موږ له هغو څخه هم غوښتنه کوو چي د رايه ورکولو د بکسونو پر ځای له ګوليو او مردکو څخه کار اخلی.

افغان وګړي اړتيا لری چي د افغانستان د راتلونکي په هکله د کانديدانو ليرليد او نظريو ته غوږ شی. دا يو داسی کمپاين ته اړتيا لري چي نه يوازی پر دی باندی متمرکزه وي، چي څوک به د هيواد راتلونکی مشر

وي، بلکې دا چې کاندیدان به هیواد کوم لوری ته رهبري کړي. نړیواله ټولنه باید د ټولټاکنو په بهیر کې د هر ډول مداخلې څخه ډډه وکړي. سره له دی چې په نظامی او ملکی برخو کی نړیوال ټولنه د افغانستان سره ونډه اخلی خو د افغانستان د خلکو په څیر حق لری چې د راتلونکي حکومت څخه تمی ولري. اجازه راکړئ چې له هغې څخه یې دری برخې بیان کړم.

لومړی، موږ په وروستیو میاشتو کې د پولیس او وسله والو قواوو په تقویه کولو، د کرنې او خصوصي سکټور په سمونی، د مالیاتو په راټولولو او د حکومت په د ننه کې د همغږۍ په برخه کې او د ملکي موسساتو په هر اړخیز پرمختیا او د پروګرامونو په جوړولو کې ښه پرمختګونه لیدلي دي. زه فکر کوم چې موږ اوس لوری بدلولای شو: افغان حکومت اوس ښه تنظیم او برابر شوی او زیات کاري صلاحیت لري، نړیواله ټولنه اوس په ښه توګه همکاري کولای شي. دغه پرمختګ اوس باید نورو مهمو برخو ته انتقال شي لکه له فساد سره مبارزه او په ولایتي کچه د حکومتدارۍ پیاوړی کول، او دا باید د باصلاحیته حکومت تر مشرتوب لاندې سرته ورسیږي.

دویم، اوسني حکومت له پاکستان سره جوړونکی او سالمه رابطه جوړه کړې. دغه رابطه د افغانستان د راتلونکی ثبات لپاره ډیره ضروري ده. په راتلونکي کې هر حکومت باید په دې وتوانیږي او د دې اراده ولري چې دې رابطې ته نور ټینګښت ورکړي.

دریم، راتلونکی حکومت باید وکولای شي چې د سولې یوه څو اړخیزه او واقعي پروسه په لار واچوي چې د ټولو افغانانو- ښځو، سړو او ماشومانو- حقونو ته درناوي وکړي او د افغاني ټولنې بیلا بیلې خواوې سره راغونډې کړي. دا باید حکومت وي چې د یووالی او اتحاد غوښتونکی وي او دی ته اجازه ور نه کړی چې هیواد ټوټه ټوټه شي.

موږ - راتلونکي افغان حکومت او نړیواله ټولنه- یوې ګډې ستراتیژیکې تګلارې ته اړتیا لرو چې وکولای شي زموږ د عمل په راتلونکو کلونو کې مشری کړي او د افغانستان له خلکو سره د ملاتړ لپاره خپله همکاري نوره هم زیاته کړو. د اګست د ۲۰ نیټې ټولټاکنې د دغې همکاري د تقویې لپاره زیات ارزښت لري.